# دکلينتون پخوانی سلاکار: دکرزی دسيال دټول ټاکنې سلاکار(مشاور) سو !

دانټرنيټ دفارسي سرچينو څخه
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

جيمز کارويل، دکلينتون پخوانی سلاکار دافغانستان د جمهوري رياست په راتلونکی ټول ټاکنوکې دحامد کرزی دسيال داشرف غنی احمدزی دټول ټاکنې دسلاکارانواومشاروينوسره يوځای سو .
جيمز کارويل، دکلينتون پخوانی مشاورد(۲۰۰۹ )زيږديزکال دجولای پر(۷) اوومه نيټه دسه شنبې په ورځ د آسوشيتدپرس دخبری آژانس ديوخبرليکونکی سره په يوی مطبوعاتی مرکه کې يې وويل : «ښايی چې دغه ټول ټاکنې په نړی کې دتيروکالنواوتردا اوسه پوری مهم ټول ټاکنه به وي اوګمان کوم چې دغه زما دټول ژوند دکار يوه په زړه پوری پروژه ده» .
داوباما دولت دغه خبره يې ځوځلی اعلان اوڅرګنده کړی ده چې دافغانستان دجمهوری رياست په ټول ټاکنې کې چې (۴۱) يوځلويښت کسه نوماندپه کې ګډون لری دهيچا اودکوم مشخص اوځانګړی نوماندی څخه به ملاتړ ونه کړی اوکارويل هم همدارنګه وايی ،چې دامريکی ديواوسيدونکی په توګه واشرف غنی احمدزی ته به مشوره ورکړی .په داهسی حال کې چې وديموکرات ګوند ته نږدی ديواستراتيژيست ټاکل کيدل په ټول ټاکنوکې داشرف غنی احمدزی دمشاروپه توکه اوخصوصاً په خپله د هيلاری کلينتون اودامريکی دخاص استازی ريچاردهالبروک شته والی، په افغانستان کې کلک اړند اوګومان يې دټول ټاکنوپه هکله دواشينګتن ناپيلتوب يې دموضع په اړه په دی هکله يې رامنځته کړی ده .اوپه عين حال کې دکرزی ويااند همايون حميدزاده هم دسه شنبې په ورځ په يو خبری کنفرانس کې وويل: « پريکړه دخلکو په لاس کې ده او دافغانستان خلک وهغه چاته خپل هوټ اورايه ورکول سی چې دافغان دجګړپوړوچاروکو دمشوروڅخه کاراخلی ،نه وهغه کس ته چې دبهرنې مشاورينودمشوروڅخه ګټه اخلی» .
کارويل وايی : دمرستی دغه فرصت ديو داهسی سړی سره لکه اشرف غنی احمدزی ،زه نه سم کولای چې دلاسه يې ورکړم .دداهسی کس په څنګ کې دريدل اووهغه ته مرسته کول په يو

داهسی هیواد کې لکه افغانستان دیو داهسی پیبنلیک(تاریخ ) اودبالقوه امکاناتوسره هیجان اوره دی.

دا په داهسی حال کې دی چې "ریپابلیکن "دنړیوالی موسسیی غړی دمی دمیاشتی دیوی ټول پوښتنی پربنسټ وایی چې اشرف غنی احمدزی به دټول ټاکنی په سیالیوکې دټولوهوټونوڅخه یوازی په سلوکې څلرمه برخه به ترلاسه کړی اوپه دریم مقام کې به ځای ولري.

اشرف غنی احمدزی دنړیوال بانک پخوانی کارکوونکی اودانسان پوهنی په رشته کې دامریکا دکلمبیا دپوهنتون څخه د ډکتورا ډیپلوم یې ترلاسه کړی دی اوڅه موده مخکی دافغانستان په کابینه کې دمالی چارودوزیر په توګه یې دنده ترسره کړیده.

په همدی ډول سره دافغانستان دجمهوری ریاست دټول ټاکنو په هکله جنرال جان کراډک چې په افغانستا کې یې د ناټو د ځواکونو د عملیاتوڅارنه کوله،هغه وایی: افغانان د کرزي د دولت سره ډېرې ستونزې لري .



جنرال جان کراډک په دی اړه زیاتوي افغان ولسمشر حامد کرزی ښایي په اسانی سره په راتلوونکو ټول ټاکنو کې بیا وټاکل سي، خو بیا هم وویل که چیری نوموړی په خپل مشرتابه کې سمون را منځته نه کړی ،ډیر ژر به د افغانستان خلک پرده باندی بی باوره سیي.

کراډک وایي تر ټول ټاکنو وروسته لومړنی شپږ میاشتې به هم د کرزي او هم دده د هېوادد پاره ډېرې حیاتي وي .

کراډک چېپه روانه میاشت کې د خپلې دندې څخه ګوښه سوی اوپه راتلوونکې اګست میاشت کې به تقاعدسی اوپرکور کښیني ، ده داهسی وویل، په افغانستان کې اداري فساد لوړی کچې ته رسیدلی او کرزی باید ددې وړتیا ولري چې وکولای سیخپلو خلکوته دژوندلومړني اړتیاوی تامین کړي .

کراډک وویل دده دلړلید د مخی د ټول ټاکنوځخه را وروسته به شپږ میاشتې هم دکرزی دپاره او هم ددې هیواد دپاره ډیرې حیاتی وي ځکه خلکو ته به دا په ډاګه سیچې نوموړي په دې موده کې د دوي دپاره کومی چاری یې ترسره کړي دي .

کراډک چې په واشنګټن کې د نیکسن دبهرنی پالیسی په تحقیقاتي مرکز کې یې خبرې کولې څرګنده یې کړه چې د ټولنیزو خدماتو اود بنسټیزو چارو د وړاندې کولو پرته د کرزي په

ملاتړکولوبه د امریکا دولت به هم بدنامه سي .
کراډک وویل زه د دې کبله اندیښمن یم چې افغانان به د حکومتي ادارو څخه په هره کچه چې وي مخ واړوي.اود کرزي د حکومت څخه د امریکا د ملاتړ د پایښت اودوام د کبله به موږ هم د ستونزې یوه برخه وګڼل سو.
کراډک وړاندوینه وکړه او وی ویل :ښایي چې کرزي به د دې ټول ټاکنۍ لومړی پړاو وګټي اوبریالی به سي او د دوهم ځل دټول ټاکنو اړتیا به رامنځته نه سي. /
اخیځلیکونه: دفارس نیوز اودراوی نیوزڅخه .